دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونيزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

کله چې الله او دهغه رسول د کوم کار په هکله پریکړه وکړي نو هېڅ مؤمن سړی او مؤمنه ښځه حق نه لري چې د خپل هماغه کار په هکله اختیارمن اوسي، او هر چا چې له الله او رسول نه یې سر وغړاوه، نو په رښتیا چې په ښکاره یې لار ورکه کړه.

(سورة الاحزاب: ٣٦)

PROPERTY OF ACKU

درس حدیث

از ابو ایوب رضی الله عنه روایت است که:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: کسی که رمضان را روزه گرفته و به تعقیب آن شش روز از شوال را به آن پیوست کند، مانند آن است که همیشه روزه داشته است. (ریاض الصالحین)

شهادت خلورم کال، ٢١ مه گڼه، پرله پسې ١٧٢ مه گڼه چهارشنبه ١٣٩١ هـ ل د وږی ١٥ مه د١٤٣٣ هـ ق د شوال المکرم ١٨ مه د٢٠١٢ م د سپتمبر ۵ مه

په ننگرهار کې د برېښنا او ځمکو مافیا حاکمه ده

• گل مراد او حاجي فاروق هغه دوه سوداگر دي، چې د جلال اباد ښار برېښنا يې له ولایت څخه په اجاره اخیستې، او د جنراتوري برېښنا په نامه يې په ښاريانو پلوري

• د غازي امان الله خان په ښارگوټي کې هم د رپوټونو په وینا د مالیې د وزیر حضرت عمر زاخېلوال، نجیب زراب او د ننگرهار والي گل اغا شیرزی شریکان دي او خلک دې شراکت ته د(بلډینگونو یاري) اصطلاح کاروي

کابل، رسنی:

د برېښنا د یوې سیمه یېزې مافیا له لوري د سرويي په اوږدو کې وسله وال گمارل شوي، چې هغو شپږو ستنو نصبولو ته اجازه ورنکړي، چې له ننگلو څخه جلال اباد او لغمان ته برېښنا لېږدوي. په دغه مافیا کې ځینې ولایتي چارواکي هم شریکان دي.

" گل مراد او حاجي فاروق هغه دوه سوداگر دي، چې په جلال اباد کې يې د ډیزلي برېښنا ٢۵ جنراتورونه ...

پاتې ۴ مخ

نوبل جایزې ته کاندیده سیما سمر په اخلاقي او اداري فساد ککړه ده

سلام خان

په تېرو لسو کلونو کې د بشري حقونو دخپلواک کمېسیون کړنې سیاسي او د پردیو گټو لپاره وې -- (د ولسي جرگې وکیلان)

سیما سمر راته وویل چې ستا ستایل او اندام د خارجیانو ډېر خوښېږي، باید زما د خارجي او داخلي میلمنو غوښتنه پرځای کړې -- (فریده)

د یوې افغاني رسنۍ په حواله دبشري حقونو د خپلواک کمېسیون رئیسه او په ځانگړي ډول د دغه کمېسیون مشره سیما سمر په اداري او مالي فساد کې ښکیله بلله شویده، ددې د کار او کړنو په اړه له وړاندې هم شکایتونه موجود وو، خو اوس یو تازه راپور ددغه کمېسیون دیوه کمېشنر لخوا وایی چې پخپله سیما سمر پر بې عدالتی او اداري فساد تورنه ده. د یاد کمېسیون یوه کمېشنر عبدالکریم

پاتې درېیم مخ

گلوبلایزیشن (Globalization) یا نړیوالتوب وپیژنئ

ژباړه: عبدالله کامه وال

دویم مخ

سزای جنایتکار؛ تنبیه یا مجازات ؟!

اعزامی



در اواخر سال گذشته در ارتباط به چندین حادثه دلخراش ناشی از بی حرمتی نیروهای خارجی در برابر مقدسات ملت مسلمان، چند نفر از سربازان خارجی توسط مراجع عدلی و قضایی کشورهای مربوط تحت محاکمه قرار گرفتند.

عواقب هر سه حادثه برای ملت افغان در آنوقت بحدی سنگین و المناک بود که با دیدن و شنیدن آن حوادث، هزاران نفر افغان در اطراف و اکناف مختلف افغانستان برای دو هفته دست به تظاهرات خونین زدند که اکثر آن وقایع تلفات جانی و خسارات مالی هنگفتی را در پی داشت. بخاطر فرو نشاندن خشم مردم و توقف این تظاهرات، بارک اوباما رئیس جمهور ایالات متحدۀ امریکا و سایر مقامات عالیرتبه ناتو به کرات از زعامت دولت افغانستان معذرت خواستند و اکیداً تعهد سپردند که بزودی عاملین این جنایات را به میز محاکمه کشانده و نتیجه را از طریق

(بقیه در صفحه سوم)

فهرست نامزدان وزرای دفاع، داخله، سرحدات و ریاست امنیت ملی به ولسی جرگه فرستاده شد

رئیس جمهور کرزی بسم الله محمدی را به عنوان نامزد وزارت دفاع، مجتبی پتنگ را به حیث نامزد وزارت داخله، حاجی دین محمد را به صفت نامزد وزارت سرحدات، اقوام و قبایل و اسدالله خالد را به عنوان نامزد ریاست امنیت ملی معرفی کرده اما این تصمیم آقای کرزی با انتقاد برخی از اعضای ولسی جرگه مواجه شده است

کابل، رسانه ها:

هیات اداری ولسی جرگهء افغانستان می گوید، فهرست نامزدان وزرای دفاع، داخله و سرحدات، اقوام و قبایل و نامزد ریاست امنیت ملی را دریافت کرده است.

قرار است نخست اسناد تحصیلی این نامزدان تازه معرفی شده، توسط نماینده های مردم در ولسی جرگه به بررسی گرفته شوند.

فرهاد عظیمی منشی دوم ولسی جرگهء افغانستان به روز سه شنبه در کابل به خبرنگاران گفت که اسناد این افراد توسط یک کمسیون اختصاصی مجلس، بررسی می گردد.

هرچند آقای عظیمی تاریخ رای گیری به نامزدان جدید، حکومت را مشخص نه ساخت اما گفت، این کار پس از ارایه برنامه های کاری آنان به وکلا صورت خواهد گرفت.

پس از آنکه حدود سه هفته پیش جنرال بسم الله محمدی وزیر داخله و جنرال رحیم وردگ وزیر دفاع افغانستان از سوی ولسی جرگه سلب اعتماد شدند، رییس جمهور کرزی رحمت الله نبیل رییس عمومی امنیت ملی را نیز برکنار کرد.

بقیه در صفحه ۴

عزیزالله لودین اتهامات ولسی جرگه علیه خود را رد کرد

کابل، رسانه ها:

عزیز الله لودین رییس اداره عالی مبارزه با فساد اداری در افغانستان، بیانات رییس کمسیون امور دفاعی ولسی جرگه را رد کرد که گفته است، آقای لودین از یک قرار داد مربوط به البسه وزارت دفاع، شانزده میلیون دالر می خواست.

عزیز الله لودین در مصاحبه با رادیو آزادی این اتهامات را بی اساس خوانده و همایون همایون رییس کمسیون امور دفاعی ولسی جرگه را متهم کرد که در داوطلبی این قرار داد دخیل بود و می خواست از آن پول بگیرد.

لودین گفت، به ما قبلاً معلومات رسیده بود که یک وکیل پارلمان ازین قرار داد پول می خواهد و داوطلبی این قرارداد را تحت نفوذ اش قرار داده است.

همایون همایون رییس کمسیون امور دفاعی ولسی جرگه در شورای ملی، آقای لودین و سرپرست وزارت دفاع عنایت الله نظری را

بقیه در صفحه ۴

ننگرهار:

په یوې جنازه کې چاودنې ۵۰ تنه مړه او ټپیان کړل

کابل، رسنی:

د ننگرهار ولایت په در بابایي ولسوالۍ کې د یوې جنازې په مراسمو کې ځان وژونکي حمله وشوه؛ چې په نتیجه کې يې ٢۵ تنه ووژل شول او له دېرشو زیات ټپیان شول

د ننگرهار ولایت د امنیه قومندانۍ ویاند حضرت حسین مشرقي وال ازادۍ راډیو ته وویل، چې تراوسه پورې د وژل شویو کسان شمیر معلوم نه دی، خو ویې ویل؛ چې گومان کېږي چې په دې پېښه کې به ٢۵ تنه وژل شوي وي.

نوموړي زیاته کړه، چې په ټپیانو کې دننگرهار ولایت د دربابا ولسوال هم شامل دی.

دغه پېښه پرون له غرمې مخکې رامنځ ته شوه، خو لا تر اوسه معلومه نه ده، چې دغه پېښه د چا په جنازه کې تر سره شوې ده.

لا تر اوسه د دې پېښې مسوولیت چا پر غاړه نه دی اخستې.

راسموسن:

د ناټو پر پوځیانو حملې به له افغانستانه د ځواکونو پر ایستلو اغېز ونه کړي

کابل، رسنی:

د ناټو عمومي منشي اندریس فوگ راسموسن وایي چې د افغان امنیتي ځواکونو له منځه د ناټو پر پوځیانو او روزونکو بریدونه د افغان او ناټو پوځیانو ترمنځ اعتماد ته زیان اړوي، خو د دې سبب به نه شي چې د ناټو غړي هیوادونه تر خپل ټاکلي وخت مخکې له افغانستانه پوځیان وباسي.

د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې اندریس فوگ راسموسن پرون وویل، د ناټو ترون دا پلان چې په تدریجي ډول د امنیتي چارو مسوولیت افغان ځواکونو ته وسپاري او خپل سرتېري د ٢٠١۴ کال تر پایه له افغانستانه

پاتې ۴ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

ملت به د باداری او غلامی دا لوبه تر څو وزغمي؟!

لدې څرګند واقعیت نه هېڅوک انکار نه شي کولې چې هېواد د ناامني، ویرې او بې عدالتي په توپان کې راګیر شوې، د قومي او توکمیز تعصب له مخې عام وژنې زیاتې شوي چې ژوندی ثبوت یې هلمند، اروزګان او د کندوز په ولایت کې د اربکي قوماندان په امر د لسګونو بې ګناه پښتنو وژل دي.

کومه ناامني، ویره او فساد چې په دې وروستیو کلو کې تر سترګو کېږي هغه د حال په ژبه په دې خبره ګواهي ورکوي چې په هېواد کې د حکومت اثر و رسوخ او واکمني له منځه تللې او هېوادوال بې سره او بې پوخه دي. حکومت خپل اهمیت له لاسه ورکړې او هېڅوک د قانون له ګرفت او سزا څخه ویره نه لري، لومړی خو د افغانستان په زیاترو سیمو کې د حکومت واکمني او تسلط نشته خو چې په کومو ولایتونو او ولسوالیو کې د حکومت واکمني او تسلط دی هلته بیا دولتي لوړ پوړي چارواکي تر زنې په فساد کې ککړ دي، هلته بیا یو بل ډول ویره او ناکلاري ده. عدل او انصاف تر پښو لاندې شوې، بډه اخیستنه، اقرباء پروري، واسطه او زورواکي خپل آخري کچې ته رسېدلې، د حکومت لوړې څوکی د څو محدودو او ګوتو شمار اشخاصو په واک کې دي، د ولس تقدیر او سرنوشت دهغوی رحم او کرم پورې منحصر دی څه چې کوي آزاد، څرګند او ښه په جرئت یې کوي، له هر ډول حساب ورکونې او قانوني ګرفت څخه محفوظ او مأمون دي. همدا لامل دی چې تر نه پورې یو لوړ پوړی چارواکی هم نه نیول شوې، نه محاکمه شوې او نه یې هم د خپلو ګناهونو سزا لیدلې. د فساد، درغلی، قومي تعصب، غصب، خیانت، رشوت، بې عدالتی او بې انصافی خبرې هره ورځ کېږي خو تر اوسه یو کس هم د خیانت په ګناه نه دی محاکمه شوې، نه له چانه غصب شوي زمکې واپس اخیستل شوي او نه هم څوک د فساد او درغلی په جرم کې په بند محکوم شوې دی، بلکې نور هم عزتمن او محترم شوې، پنځه واړه ګوتې یې په غوړیو کې دی، بې حسابه او بې کتابه سرمایه ورسره ده، په داخل او خارج کې بلند منزلونه، مارکیټونه او تجارتونه لري، څان پسې مسلح، باډیګارډان او محافظین ګرځوي، والیان، قاضیان او رئیسان یې تر لاس لاندې کړي او هر کار یې د تیلفون له لارې په څو دقیقو کې کېږي، ځانو لپاره جنت او نورو عامو ولسي وګړو لپاره یې دوزخ جوړ کړې دی، لنډه دا چې په دې هېواد کې چې د لوړ پوړو چارواکو او عام ولسي وګړو ترمنځ د امتیاز کوم وضعیت تر سترګو کېږي د فرعونیت د زمانې یاد تازه کوي، د عسکرو په پیرو کې په محفوظو بلډنګونو کې اوسېدونکي او د لسګونو محافظینو په قطار کې دفترونو ته تلونکي چارواکي خپلو مزو، چړچو او بې حسابه سهولتونو دومره مغرور او مدهوش کړي دي چې د ولس کړیکي او فریاد نشي اورېدلې، لدینه خبر نه لري چې په هېواد کې ناامني، بې عدالتي او بدمعاشي د ولس ژوند څومره تر ګواښ لاندې نیولې، او له بوګنونکی حالت سره یې مخامخ کړی دی؟ !

دوی ته به د ولس کړاوونه، مصیبتونه، مظلومیتونه، دردونه او محرومیتونه هله معلوم شي چې یو څو ورځې له خپلو حرم سرایونو څخه باندې لیرې سیمو ته لاړ شي، هلته جوفې جوفې بې مسؤولیته ټوپکیان، راکټ او پیکا په لاس مسلح مخالفین، غله، ډاکوان، بریتور او کاکولي بدمعاشان، زورواکان او بې رحمه قاتلان ووینې، په سره ګرمی کې د خپلو خولو د وچېدو لپاره پکه، د رڼا لپاره برق، د خوراک څښاک لپاره اوبه، ډوډی او اوسېدو لپاره جونګړه ونه لري، د یو مزدور، دهقان، شاګرد او مظلوم په بڼه کې والي، ولسوال، قاضي، څارنوال، رئیس او مدیر مخې ته ودرېږي، او دهغوی له تکبر نه ډک سلوک ووینې، بې ډاکتره او بې درمله د رنځ په کټ کې پرې اوځي، ظلم، ناانصافي، بدمعاشي، غریبي، محرومي، لوږه او تنده له هغوی نه خوبونه وتښتوي.

چارواکي دې نور خپلې پټې سترګې خلاصې او بند غوږونه دې واز کړي چې نور ولس تر پوزې راغلې، د صبر او زغم کاسه یې ډکه، قهر او غوسه یې توپاني شوې، که دخپل غفلت، ناخبري او بیخودي له خوبه بیدار نشي خپل مسؤولیت ونه پیژني داقتدار واګې دیانتدارو او امانتدارو اشخاصو ته ونه سپاري نو لیرې نه ده چې هرڅه یې دولسي پاڅون په توپان کې د خس او خاشاک په څېر وبهېږي او دغه په درانه خوب کې ویده چارواکي د اوبو د څک په څېر سپک او ورک شي.

ګلوبلایزیشن (Globalization) یا نړیوالتوب وپیژنئ

ژباړه: عبدالله کامه وال

(وروستی برخه)

زده کړه

نن په نړیواله کچه سیکولر ښوونیز نظام چلېږي. دغه وړ تعلیمي نظام به په راتلونکي کې اسلامي نړی ته بلا ډېرې ستونزې وپنځوي. څکه همدا ښوونیز نظامونه د زده کوونکي فکري لوری ټاکي. هر څوک اوس په دې هڅه کې دی، چې د طبیعي علومو سربېره په ټولنیزو علومو کې هم له غربي هېوادونو د فراغت سندونه ولري. د اجتماعي علومو په برخه کې په غربي هېوادونو کې لوړې زده کړې، هغه هم په هغه صورت کې چې زده کوونکی د خپل هېواد له تاریخ و کلتور او په فکري لحاظ اسلامي مطالعه و نه لري؛ په زیاته کچه ډېر ژر خپل هویت له لاسه ورکوي. د دې ستونزې مخنیوی په هغه صورت کې شونی دی، چې له تګه مخکې محصل د خپل دین او کلتور په باب د پام وړ مطالعه کړې وي.

سیاسي او اقتصادي ستونزې

په سیاسي لحاظ به اسلامي نړۍ د نړیوالتوب د بهیر د لا پرمختګ په صورت کې، تر ابده غربي هېوادونو ته لاس په نامه وي. نړیوالتوب په سیاسي برخه کې د یوه نړیوال دولت په لور په حرکت کې دی، چې د دغه نړیوال آیډیال دولت واګې به د لوېدیز هېوادونو په واک کې وي. د دې دولت ښه سریزه د اوسمهال د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ده، چې د پرېکړو په لار کې یې حتی د هېوادونو ملي حاکمیت هم خنډ نه شي کېدای. ملي حاکمیت د معاصر دولت یوه اساسي، نه بېلېدونکې او نه تجزیه کېدونکې برخه ده، چې د امنیت شورا په نامه د پنځو دایمي غړو هېوادونو د پرېکړې پر وړاندې بیا خپل ارزښت له لاسه ورکوي.

په اقتصادي برخه کې به د دریېمې نړۍ هېوادونه تل لوېدیزوالو ته د مرستو لپاره لاس اوږد وي. موږ به تل د دوی پوروړي یو او د پورونو د لګولو لارې به هم له دوی زده کوو؛ نه دا چې د خپلو هېوادونو اړتیاوې په پام کې ونیسو او د اړتیا وړ پروژې پیل کړو. دغه وخت وي، چې د دولتونو او ولسونو ترمنځ د مخالفت خلیج پراخېږي. د سوداګرۍ په برخه کې به موږ په بشپړو مصرفي هېوادونو بدل شوي وو. د دوی پر صادراتو به هېڅ ډول مالیه نه شو لګولی او موږ ته به دومره چانس هم نه راکول کېږي، چې خپل تولیدات لږ تر لږه پر خپلو خلکو وپلورو.

د نړیوالتوب ګټې

د نړیوالتوب له امله د ارتباطاتو په برخه کې د پام وړ پرمختګونه شوي دي. اوس دا آسانه خبره ده، چې د موبایل او انټرنیټ له لارې د نړی په بل سر کې له چا سره په ساعتونو خبرې وکړو. د ټرانسپورټ په برخه کې ګړندي موټر، رېل ګاډي او الوتکې منځ ته راغلې، چې اوږده واټنونه یې خورا لنډ کړي دي. د رسنیو د پرمختګ له امله کولای شو، په څو شېبو کې د پېښې سیمه په ژوندۍ بڼه وګورو او د لرې دنیا له حالاتو خبر شو.

د سوداګرۍ ګړندیتوب

له نړیوالتوب سره سوداګرۍ د پام وړ پرمختګ کړی دی. نن د ارتباطي وسایلو د پرمختګ له امله انسانان کولای شي، لرې هېوادونو ته سره سوداګري وکړي.

ډاکتر محمد ابراهیم شینواری د «سبا به ناوخته وي؛ د افغانستان د ثبات او پرمختګ څو مسئلې» کتاب کې د سوداګرۍ د ودې په هکله حیرانونکې شمېرې وړاندې کړې دي. ښاغلی شینواری لیکي:« نړیوالتوب د خارجي تولیداتو جریان چټکوي. د نړیوال تجارت له لارې په وروستیو ۴۰ کلونو کې د اشیاوو تولید ۱۰۰ چنده زیات شوی دی. او له ۹۰میلیونه تر ۱۲ترېلیونه پورې رسېدلی دی. د ۲۱مې پېړۍ په پیل کې د ۱۰۵ترېلیونه په ارزښت تجارت په بهرنۍ کرنسۍ شوی دی."

د دندو فرصتونه

اوس د نړۍ په ګڼ شمېر هېوادونو کې د ګڼ ملتیزو شرکتونو څانګې پرانیستل شوي دي، چې دې کار سره د کوربه هېواد وګړو ته بې شمېره دندې پیدا کېږي. کله چې سوداګري وده کوي، طبیعي ده، چې په بې ساري ډول دندې منځ ته راځي.

ځوانان او نړیوالتوب

په اسلامي نړۍ کې د سالمې رهبرۍ د نه شتون له امله نه شو کولای په بېړني ډول د سیاسي او اقتصادي نړیوالتوب پر وړاندې ځانونه چمتو کړو. د رهبرۍ بدلون او یا اصلاح اوږد مهاله او هر اړخیزه کار ته اړتیا لري. په کلتوري لحاظ هر څوک په تېره ځوانان کولای شي په آسانۍ سره د نړیوالتوب له ناوړو اغېزو ځانونه خوندي وساتي او له اسانتیاوو او ګټو څخه یې د خپل دین، وطن، کلتور او هویت په ګټه کار واخلي.

د اسلام پر اصیل فهم ځان پوهول او د خپلو مسلمانو مفکرینو او فیلسوفانو د آثارو د مطالعې له لارې کېدای شي د نن ورځې مسلمان ځوان په زړه کې پر ځان ویسا، پر خپل اسلامي /ملي تاریخ، کلتور، ژبې وطن او ولس ویاړ پیدا شي. نن چې مسلمان ځوان ډېر ژر د لوېدیز کلتوري څپو پر وړاندې ځان هېروي، عمده لامل یې همدا دی، چې د نامتو مسلمانو مفکرینو لکه، علامه سیدجمال الدین افغان، علامه اقبال، شهید سید قطب، ډاکتر محمد عماره او داسې نور... پوهانو له آثارو او افکارو اصلاً خبر نه دی. نن چې مسلمان ځوان د لوېدیځ مادي پرمختګونه وېني، بیا داسې انګېري، چې ګواکې لوېدیځوال په هره برخه کې په تېره کلتور کې مخکې دي او د دوی د پیروۍ پرته ورته پرمختګ شونی نه دی. که مسلمان ځوان د ارواښاد اقبال لاهوري د «خودي» فلسفه وپېژني، بیا به کله هم ځان هېر نه کړي.

د نړیوالتوب له ناوړو اغېزو د ځوان د ژغورنې یوازینۍ لار دا ده، چې پر خپل ځان باور ولري، پر خپل اسلامي /ملي هویت، ژبه، کلتور او هېواد وویاړي؛ دغه حالت هغه وخت منځ ته راتلای شي، چې ځوان د اسلامي نړۍ د مفکرینو او لیکوالو افکار ولولي او ښه غور پرې وکړي، له خپلې مطالعې د اوسني وخت د ننګونو درمل راوباسي. مخکې یادونه وشوه، چې اسلامي نړۍ د رهبرۍ له بحران سره هم مخ ده. بنا پر دې له اوسنیو حکومتونو څوک دا تمه نه شي کولای چې د ځوان پوښت د فکري روزنې غم ورسره وي. په پای کې ځوان باید په خپله د خپل پاینښت لپاره هلې ځلې وکړي او له حالاتو سره مبارزه وکړي. د پښتو ژبې نامتو لیکوال او فیلسوف، ارواښاد استاد ګل پاچا الفت د «نثري کلیاتو» په یوه برخه کې لیکي:« د سیند په اوبو کې مخ پورته تګ قوت او جرئت غواړي او د اوبو له جریان سره موافق تګ مړه کبان هم کولای شي». اوس د نړیوالتوب له بهیر سره سم ځان عیارول طبیعي کار دی، کمال دا دی چې د دې سېلاب پر خلاف حرکت وشي، زیانونه او ګټې یې وڅېړل شي او په پای کې یې له زیانونو ځان وژغورو او له ګټو یې د ځان لپاره کار واخلو.

یو اوږد، پېچلی او علمي بحث دی، چې په یوې دوه مقالو د دې پدیدې د هر اړخ څېړنه، نه آسانه ده او نه هم ممکنه. نن سبا د نړۍ په ګڼو پوهنیزو او څېړنیزو مرکزونو کې پوهان په دې باب څېړنې کوي او د دې بهیر پر مختلفو اړخونو نظر ورکوي، نړیوالتوب هم د اجتماعي علومو د نورو څانګو په څېر د ګڼو پوهانو له مختلفو نظریاتو سره مخ شوی دی. هر څوک له خپل لیدټکي نړیوالتوب ارزوي او بیا پرې د ګټې او یا تاوان پرېکړه کوي. دا هم باید په پام کې ونیسو، چې له دې پدیدې خلاصون نه شته، ضرور به ترې اغېزمنېږو، بلکې وخته لا اغېزمن شوي یو.

ډاکتر نجم الدین بکر، د نړیوالو اړیکو نایجېریایی استاد، نړیوالتوب له سمندر سره ورته وباله. ده وې:« هر څوک له سمندره خپله برخه وړي؛ دا نو بیا د خلکو توان پورې اړه لري، چې څومره وړلی شي». د نړیوالتوب د ګټې او زیان د معلومولو لپاره دا په زړه پورې مثال دی. د نړۍ په سمندر کې ډېر هېوادونه اوسېږي، دوی کې ځینې کوچنې او ځینې ستر دي؛ ځینې ځواکمن او ځینې کمزوري دي. طبیعي ده، چې ځواکمن به ډېره برخه لري او د کمزورو برخه به په هر څه کې خواره وي. په دې معنا، چې په سیاسي لحاظ به دوی برلاسي وي، په اقتصادی لحاظ به مو لاس ورته اوږد وي او په کلتوري برخه کې به ورځ تر بلې له خپلې ژبې او کلتور سره پردي کېږو او د دوی هغه به راخپلوو.

د پورته ستونزو په پام کې نیولو سره باید په سیاسي لحاظ ځانونه دومره پیاوړي کړو، چې د امکان تر بریده د هغوی له غېزې خوندي اوسو. په اقتصادي برخه کې، د دریېمې نړۍ هېوادونو ته د ژغورنې لار همدا کېدای شي. چې په خپلو کې اقتصادي ټولنې جوړې کړي او له یو بل سره د مالونو په تبادله کولای شي په اقتصادي لحاظ وده وکړي او که سوداګري له پرمختللو هېوادونو سره وي او پر وارداتو مالیې هم لرې او یا کمې کړي بیا به نو په یوه مصرفي هېواد بدل شي. په کلتوري برخه کې موږ ډېر اغېزمن شوي یو. د خلاصون بهتره لار همدا ده، چې خپل ځوان پوښت له خپل اسلامي او ملي هویته خبر کړو او پر هغو ورته د ویاړ احساس ورکړو. له دې سره سره په خپلو ژبو کې دومره آثار ولیکو چې دې ته اړتیا پاتې نه شي، چې په انګلیسي ژبه د خپل ضرورت وړ کتابونه ولولي.

سزای جنایتکار؛ تنبیه یا مجازات ؟!

(ادامهء از صفحه اول)

... رسانه ها به اطلاع دولت و مردم افغانستان می رسانند.

پوزش خواهی خارجی ها و اقدامات مماثل مقامات داخلی باعث شد که خشم و غضب مردم تا حدی فرو نشیند و همه منتظر محاکمه و مجازات عاملان این حوادث دلخراش باشند، اما در این اواخر اخباری از رسانه ها نشر گردید که گویا شش سرباز ارتش امریکا و سه تفنگدار دریایی این کشور در ارتباط با سوزاندن کتاب مقدس مسلمانان و ادرار کردن بر اجساد شورشیان طالب در افغانستان، از تعقیب جزایی گریخته اند و در عوض)تنبیه اداری(خواهند شد. این گزارشات که چندی قبل فاش شدند، علی الرغم محکومیت آن از سوی مقامات و فرماندهان امریکایی و وعدهٔ پی گیری محاکمهٔ آنها بر روابط کابل و واشنگتن صدمه زد. سوزاندن قرآن کریم)کتاب مقدس مسلمانان(باعث شورش و کشتارهای تلافی جویانه شد، از جمله چند سرباز و مشاور امریکایی توسط همکاران افغان شان کشته شدند و همین سلسله تا اکنون نیز ادامه دارد.

تدابیر انضباطی علیه یک افسر نیروی دریایی در ارتباط با حادثهٔ قرآن سوزی رد شد و سپاه تفنگداران دریایی گفت که تدابیر انضباطی دیگری در ارتباط با ادرار بر اجساد طالبان بعداً اعلام خواهد شد.

نام و مجازات دقیق این افراد اعلان نگردیده است و همین امر موجب شده که متهمان با تعقیب جزایی مواجه نشده و فقط به تنبیه اداری بسنده می شود. این فیصله قضایی باعث خشم افغان ها خواهد شد زیرا تنبیه اداری شامل تنزیل رتبه، سپردن وظایف اضافی، کسر معاش، و یا عدم پرداخت آن و بالاخره توصیه می شود. در حالیکه مقامات امریکایی قبلاً این حوادث را غیر عمدی و اشتباه ناشی از تصامیم نادرست توصیف کرده بودند و به مردم افغانستان وعدهٔ حکم جزای سنگین به عاملان آن حوادث را داده بودند.

مردم افغانستان که همدردی مقامات دولتی را نیز با خود داشتند، اعمال فوق را عمدی دانسته و اظهار داشتند که چنین برخوردها بیانگر این حقیقت است که خارجی ها به مقدسات دینی و ظرافت فرهنگی افغان ها بی اعتنا هستند و عساکر شان در افغانستان به قرآن و اجساد مرده افغان ها توهین روا می دارند، تنبیه اداری به عاملان توهین به مقدسات و کشتار بیرحمانهٔ افغان ها، علی الرغم تقصیر بزرگ و وعدهٔ پی گیری جدی متهمان از سوی مقامات آنها، نوعی دهن کجی در برابر خواست ملتی است که این همه زجر روحی را متحمل شده و منتظر مجازات شدید خارجی ها در محاکم خود شان بودند. این چنین برخورد در برابر متهمان هتک حرمت به مقدسات، در حقیقت گذاشتن مهر تائید به عمل جنایتکارانهٔ متهمانی است که باید با مجازات سنگین روبرو می شدند. آیا با تنبیه اداری می شود که انگیزه های عقده گشایی و اعمال مجرمانهٔ از این قبیل را در میان نیروهای خارجی که اغلباً درگیر تعصبات و توهین ها در برابر مقدسات مسلمانان اند، جلوگیری کرد؟ این خود دلیل بی توجهی گردانندگان این بازی بزرگ نسبت به دین و فرهنگ باشندگان این سرزمین می باشد.

این تصمیم در زمانی گرفته می شود که حوادث حمله بجان سربازان خارجی نه تنها از جانب مخالفین مسلح، بلکه از جانب عناصری ملبس به یونیفورم اردوی ملی و پولیس ملی بیشتر از گذشته بالا گرفته است و یقیناً که این تصامیم بر ضرر نیروهای خارجی مستقر در افغانستان خواهد بود و به انگیزه های بدبینی و عقده مندی افغانها نسبت به حضور خارجی ها دامن میزند.

ملت افغانستان به آنچه که بنام تنبیه اداری در قبال محاکمهٔ مهمان خارجی توهین به مقدسات اتخاذ شده است، بهیچ وجه قناعت نداشته و از اولیای امور دولت تقاضا دارند تا بر مقامات خارجی فشار بیاورند که به تناسب سنگینی جرم متهمان و مطابق پوزش خواهی و وعدهٔ پی گیری آن ها از عاملین حوادث دلخراش نامبرده، مجازات درخور عمل جرمی آنها را تجویز نمایند. در غیر آن مردم افغانستان ازین نوع بدقولی ها و وعده خلافی ها که نه با قاموس دین و فرهنگ افغان ها همنوائی دارد ونه به هنجارهای حقوقی کشورهای خارجی مطابقتی، شدیداً منزجر شده و نسبت به تعهدات آنها در آینده و حال بدبین خواهند بود.

نوبل جایزې ته کاندیده سیما سمر په اخلاقي او اداري فساد ککړه ده

(د لومړی مخ پاتې برخه)

عزیزي پرون د ولسي جرګې د قانون پر پلي کېدو د څار په کمېسیون کې د بشري حقونو پر خپلواک کمېسیون د وکیلانو د نیوکې پر مهال وویل چې سیما سمر په اداري او مالي فساد کې ښکېله ده.

ده وویل چې سمر دغه راز د بشري حقونو په خپلواک کمېسیون کې پر خپل سر خلک پر دندو ګوماري او د افغانستان قوانینو ته درناوی نه کوي، د پارلماني چارو د وزارت له لوري په ځېره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي چې عزیزي د سیما سمر د فساد په اړه یو لړ اسناد هم د ولسي جرګې غړو ته سپارلي دي.

وکیلانو نیوکه کوله چې په تېرو لسو کلونو کې د بشري حقونو دخپلواک کمېسیون کړنې سیاسي او د پردیو د ګټو لپاره دي که څه هم ډېر مخکې باید د سیما سمر دله مخ څخه دغه دبشري حقونو دتحقق ددرواغو پرته پرده پورته شوې وای، داچې تر او سه دغه اقدام ونه شو دا زمونږ افغانانو بد قسمتی ده چې دهرې پیښې له واقع کیدو وروسته مونږ اقدام کوو.

په هرصورت دسیما سمر په باب ډېر کره او ژوندي شاهدان موجود دي او په خپله نارې وهي چې مونږ دسیما سمر له لورې وجنسي استفادې ته تشویق شوي یو او اعتراف کوې چې زمونږ څخه یې ناوړه استفاده کړې ده او دسیما سمر دشخصي ګټو قرباني شوې یو، چې دهغو له جملې څخه یوه زمونږ دوطن لور د (فریدې) په نامه یادیږي چې څه وخت دمخه یې دهند په هیواد کې دمهاجرت شپې او ورځې سبا کولې، دغې ځوانې نجلی ۲۰۰۹ م کال دفبروری په لومړی نېټه دیکشنبی په ورځ خپل داعتراض رږغ دآریانا افغانستان دتلویزیون لاری اوچت کړ او مستیقما خپله دسجېې سره مصاحبې ته حاضره شوه، ممکن زمونږ ډیرو وطنوالو دغه مصاحبه اوریدلې وي اوپه زړه یې وي.

نوموړی په ژړا ژړا کې وویل: چې زه یوه بې سر پرسته اوبې کوره او خواره ځوانه نجلی وم او دژوند لاره راڅخه ورکه وه، حیرانه وم چې څه وکړم بالاخره په کابل کې یو چا راته وویل چې دبشري حقونو وخپلواک کمیسیون ته چه مشره یې یوه ښځه ده چې سیما سمر نومیږې ورشه هغه به درسره مرسته وکړی.

فریده وایې زه هم ورغلم دسیما سمر سره مې وکتل اوهغې زما سره اول ښه وضیعت وکړ اوماته یې ددې په یو میلمستون کې ځای راکړ، وروسته څو ځله سیما سمر زما سره وکتل او زه به یې ومعاشرتی ژوند ته تشویق ولم او ډیرې ښې ښایسته او موډرنې جامې به یې راته په تن کولې او ځینو میلمستیا ګانو اوشخصي محافلونو ته به یې بیولم او ډیره یې جنسي استفادې او ګټې ته تشویقولم.

یوه ورځ یې په ډیرو ښکاره الفاظو کې راته وویل چې ستا ستایل او اندام دخارجیانو ډیر خوښیږي، ته باید ځان دشخصي استفادې په منظور اماده کړې او که هر وخت ضرورت و ته به زما سره یوځای ځې او دخارجي او داخلي میلمنو غوښتنه به پرځای کوې.

فریده وایې: سیما سمر ماته وویل چې دا کوم بد کار نه دی او هره ځوانه نجلی حق لري چې آزاد ژوند ولري او له ځوانی څخه خوند او مزه واخلي.

دوهم : دمستندواوموثقو معلومات په اساس کوم وخت چې په ۲۰۰۸ م کال کې په کابل کې په سرینا هوټل باندې ځانمرګه حمله وشوه او ځان مرګو هوټل تر محاصرې لاندې ونیو، دهوټل په داخل کې ټول خارجي او داخلي میلمانه کلا بند پا تې ول چې په هغه وخت کی سیما سمر هم هلته دخارجي میلمنو سره بنده پاتې وه او له دې سره درې نورې ځوانې نجونې هم وې.

کله چې امنیتی مسؤولین وهوټل ته ننوزي اورې چې دهوټل په لاندنی طبقه کې دښځو ژړاوې دي کوم وخت چې هلته ورځي ګوري چې سیما سمر سره له درې ځوانو نجونو پرڅمکه پرتې دي او څو نفره خارجي (میلمانه !) هم هلته پراته وو چې دهغو له جملې څخه یو یې دناروې دخارجه چارو وزیر ؤ.

دامنیتی مسولینو څخه یوه دا هم وویل چې هغو دریو نجونو چې دسیما سمر سره په هوټل کې کلا بندې وې او په ژړا ژړا یې چیغې وهلې چې (ما را سیما سمر بازی داده است وما را اینجا اورده بود که با مهمانان خارجی بیشینیم) او دا هم ویل شوي دي چې سیما سمر او هغه درې نورې ځوانې نجونی دخارجیانو په ګډون سخت دنشې په حال کې پر ځمکه پراته وو او ډېر شراب یې څښلي ول، بناء دنجیب الله کابلي دغه لاندې څرګندونې حقیقت او واقیعت لري چې څو کاله مخکې یې له رسنیو سره کړې دي او ویلي یې دي چې : د بشر د حقونو په خپلواک کمیسیون او د شهدا ارګنایزشن په نوم ټولنه کې، چې سیما سمر یې مشره ده ، له کونډو او نجونو څخه جنسی ګټه اخیستل کیږی، توجه وکړئ دښاغلی نجیب الله کابلي څرګندونوته: هغه خبریالانو ته وویل چې په نړدې راتلونکې کې به د شاوخوا سلو هغو کسانو نومونه په ډاګه کړي چې د ده پر وینا په جنګي جنایتونو، اداري فساد او قاچاق کې لاس لري، د افغانستان د ملی مشارکت جبهې د بشری حقونو د خپلواک کمیسون پر رئیسې سیما سمر تور ولګاوه، چې د دغه کمیسون له نوم او حیثیته شخصي ګټه اخلي او په لوی لاس یې د جنګي جنایت کارانو او د بشر د حقوقو د تېري کوونکو د محاکمې مخه نیولې ده. د دې جبهې مشر او د ولسی جرګې پخوانې غړي نجیب الله کابلی په کابل کې په یوه خبري کنفرانس کې وویل: دا چې د افغانستان دبشر د حقونو خپلواک کمیسون په تېرو اتو کلونو کې د یوه جنګي جنایت کار نوم هم افشا نه کړی شو، علت یې په دغه کمیسیون کې موجود اداری فساد دی ، نوموړي وویل، میرمن سمر د رشوت په بدل کې د جنګی جنایت کارانو له لیست نه د ځینو کسانو نومونه لرې کړی دی: د افغانستان د بشری حقونو دخپلواک کمسون مشره سیما سمر "دوستانو مو ړ داسې اسناد لرو، چې یوې ځانګړې محکمې ته به یې وسپارو، دا اسناد ښیی، چې د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون له ځینو رهبرانو او قومندانانو دوه دوه نیم لک ډالره باج اخیستی دی او په جنایتونو یې سترګې پټې کړي دي، د څو تنو لست یې جوړ کړی دی او د ځینو نورو، چې هغوی هم جنایت کاران دي، لست یې نه دی جوړ کړی.

دهغه په وینا د بشري حقونو کمیسون په خپله پر یو مافیایي باند بدل شوی دی. "کابلي همدا راز وویل: د بشر د حقونو په خپلواک کمیسون او د شهدا ارګنایزشن په نوم ټولنه کې، چې سیما سمر یې مشره ده، له کونډو او نجونو څخه جنسي ګټه اخیستل کیږي. هغه وویل: د افغانستان د ملي مشارکت جبهه به، چې له لسګونو سیاسی ګوندونو او ټولنیزو سازمانونو جوړه ده، د شاوخوا سلو کسانو، چې ده قومی ټیکه داران او په اداری فساد او د مخدره موادو په قاچاق کې ښکیل وبلل، نومونه هم ډیر ژر خپاره کړي.

په افغانستان کې ګڼ کسان د تېرو کلونو په جګړو او جنګی جنایتونو کې ښکیل بلل کیږي، خو تر اوسه پورې هیڅ کومې ادارې د دوی پر خلاف په کومې ملی او یا نړیوالې محکمې کې په رسمي توګه ادعا نه ده کړې ، دا ؤ هغه معلومات کوم چې دنجیب الله کابلی دڅرګندونو په اساس دبشر دحقونو دخپلواک کمیسون دمشرې سیما سمر په باب زما سره ؤ تا سو ته یې دمطالعې پخاطر ډالی کوم .

تجربه

دوکتور عبدالوهاب "حسام"

پنځمه برخه

(تېر پسې)

ځوارلسمه تجربه: د الله پاک نعمتونه او زمونږ عملونه، کله نا کله داسې وشي چې سړی لږ نیک عمل و کړي ډیر غره شي چې زه که خیر وي په الله پاک مې حجت پیدا کړ او اجر ترې په زوره غواړي، خو په خپل ځان یې د الله پاک ټول نعمتونه شاته اچولي وي، یوه شپه له یو چا سره میلمه شوم نو هغه خپله قصه داسې وکړه: یو شپه د مجاهدینو یو ګروپ راغی نو ما ورته ډوډی تیاره کړه په کور کې مې یو کټوی ماسته وه دا مې ټول ورته راوویستله، بیا مې خوب ولید چې الله پاک راته وایې: چې هغه تیره شپه چې دې یوه کټوی مستې "زما د لارې مجاهدینو ته ورکړې وې هغه بیرته در واخله، نو وایې: ما ورته و ویل: چې و الله که یې واخلم، هغه (الله) و ویل: ولې؟ ما ورته و ویل: تا وعده کړې چې اجر یو په لس ور کوي نو اوس څنګه ما ته یو په یو راکوې؟ بله ورځ په جومات کې ملا خبري کولې، مقتدیان یې د لږ نیک عمل په کړنه ډیر زیات نازول، کله چې زمّا وار راغی نو ما خلکو ته و ویل: تاسې به یواځې خپل نیک عملونه نه ګورئ د الله پاک نعمتونه هم هیر نه کړئ او همیشه د خپلو عملونو او د الله پاک د نعمتونو پرتله و کړئ او د انصاف نه کار واخلئ. بیا مې ورته د هغه زاهد سړی قصه و کړه چې ۸۰ کاله یې په یوه جزیره کې د الله پاک عبادت کړی و او د د نیا د شهواتو او لذاتو نه خبر نه و ټول عمر یې د الله پاک عبادت ته وقف کړی و، خو دا یې هیر وه چې ۸۰ کاله الله پاک ده ته ژوند او صحت ور کړی و، خوراک او څښاک یې ور کړی و دا نور نعمتونه لکه سترګې، غوږونه، پښې لاسونه، او داسې نو. په هر صورت زاهد مړ شو او قیامت قایم شو اوحساب کتاب شروع شو، د ده وار راغی، الله پاک امر و کړ چې دی زما په رحم سره جنت ته بوزئ، دې زاهد کیدای شي کوم افغان به و، په ډیر قهر او غوصه الله پاک ته مخ راواړاوه او ویې ویل: آیا زه به ستا په رحم جنت ته زم. هغه زما عبادت نو څه شو؟ الله پاک امر و کړ چې جهنم ته یې بوزئ، کله چې ملائکو دی د جهنم په لور روان کړ، تر یو حده چې ولاړ و یې ویل: دا خو ډیره ګرمي ده دلته لږې اوبه به نه وي ملائکو و ویل: نه اوبه نشته، بیا یې و ویل: مرم لږې اوبه، ملائکو ورته و ویل: اوبه به در کړو خو ته به څه راکړې؟ ده و ویل: هغه زما نیم عمل ستاسو شو، یو ګلاس اوبه یې ورکړی، نور چې مخکې ولاړ بیا یې اوبه و غوښتې، ملائکو ور ته و ویل: څه به راکړې؟ ده و ویل: هغه نور نیم عمل مې هم ستاسو شو، نو عمل خو یې خلاص شو، نو بیا یې و ویل: الله پاکه ! اوس مې ستا په رحمت سره جنت ته بوزه نو د زاهد د اتیا کالو عبادت د دوه ګلاسو قیمت شو او بس.

شپاړلسمه تجربه: له شرعي نصوصونه شعارونه جوړول او د دې منفي اثر: ځنې شرعي نصوص چې د ډیرې مودې راهیسې زمونږ په جامعه کې د شعار په شکل استعمالیږي د هر سړي په خوله دي خو هیڅوک پرې عمل نه کوي د بیلګې په توګه د اتفاق او اتحاد موضوع، که اوس په جومات کې ودریږی او دا موضوع د شرعي نصوصو په رڼا کې څېړې نو پر خلکو درنده تمامیږي؛ ځکه چې هغوی زمونږ کړنې ددې نصوصو خلاف ګوري همداسې د امانتداری او صداقت خبره به هم خلکو درنده تمامیږي؛ همدا رنګه د ښځو د تعلیم په هکله د طلب العلب فریضة علی کل مسلم، خبره هم په خلکو ډېر ښه نه لګیږي ځکه چې مونږ دې لپاره کومه نوی نمونه نه لرو او په بابا فخر کول کومه ځواني نه ده او د ناوې دنیا ښایست د ناوی په درد نه خوري.

یوه ورځ د جمعي د لمانځه لپاره په کلي کې یو مسجد ته ولاړم، امام نه و، کله چې زه جومات ته داخل شوم څو کسانو راته اشاره و کړه چې خبري و کړه، ما که څه هم په اول کې انکار و کړ؛ ځکه چې تیاری مې نه درلود او موضوع راسره نه وه، خو بیا مجبور شوم، او ودریدم، وخت ډیر کم و، خلکو ته مې و ویل: الحمد لله تاسې ټول نارینه په ښه اخلاص د جمعي د لمانځه د اداکولو په موخه جومات ته راغلي یاست، خو زما پوښتنه داده چې تاسې چې د لمانځه په نیت د کوره راوتی په کورونو کې مو یواځې تورسري پریښودی، د خپلو کورونو دروازې مو تاله کړي دي او که نه؟ دوي و ویل: نه. ما و ویل: ولې تاسې خپلې دروازې نه دي بندي کړي؟ ځواب به مو حتمي داوي چې امن دی الحمد لله د اعتماد فضا ده، وروروولي ده، خواخوږي ده، کوم خطر نشته نو ولې دروازې بندې کړو، دوي و ویل: هو، همداسې ده. ما و ویل: ګورئ ورونو ! که مو اختلاف و کړ او یو د بل په ضد شوي، نو که اوس سره له دې چې ستاسو دروازې خلاصې دي هر سړی په اسانی ور ننوتی شی خو هیڅوک د دې جرأت نه شي کولای، کمزوری نه چې زورور سړی هم ستاسې کورته نه شي ننوتلی او ستاسې تور سرې مینډې خویندې میرمنې لوڼې په عزت او عفت له څه ویرې او ترسه په خپلو کورونو کې ارام او هوسا ژوند تیروي د اختلاف په صورت کې که خپلو دروازو ته په سلګونو قلفونه هم واچوئ خو چې شور او غوغا مو له کوره را بهر شوه، بیا به عر بذ غنل له اجازې او ویرې پرته ستاسو د کورونو په دیوالونو در اوړي ستاسو د کورونو ستر او پرده به ماتوي او د تورسرو عزت او ابرو به تر پښو لاندې کوي. په ملي کچه خو زمونږ د اختلاف نتیجه دا شوه چې خپل وطن مو په خپلو بلبلانو حرام او نور د هر قوم او قبیلې مرغیو ته حلال شو، (حرام علی بلابله، و حلال للطیر من کل جنس) د دې خپلو کورونو خیال و ساتئ د وروګلوی په فضا کې ژوند و کړئ، په خپلو منځونو کې د صله رحمې ژوندی وکړئ او یو بل ته د مرستې لاس ور کړئ، (کان الله في عون عبده ما دام العبد في عون أخيه) والسلام.

(نور بیا)

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

افغانانو ته په ټیټه کتل کېږي او خپله افغانان په دې پوهېږي

نیویارک ټایمز د خپلې تازه ګڼې سرمقاله په کندز کې د وسله والو ملیشو د یوه قوماندان له خوا د ګڼ شمېر کسانو د وژل کیدو پیښې ته ځانګړې کړې ده.
ورځپاڼې د کندز پیښې ته په کتنه کې لیکلي: د یکشنبې په ورځ درې جسدونه چې په مرمیو سوري شوي وو، په کالیو کې نغښتي او د کلي د یوازنې پیک اپ موټر په باډۍ کې اېښودل شوي وو.
د دې پیک اپ موټر تر شا څو واړه موټر روان وو، چې ډالې یې خلاصې وې او یو یا دوه جسده په هر یوه کې بار وو.
د غم له دې کاروان سره د وژل شویو کسانو د کورنیو غړي او خپلوان په لس یا پینځلس قراضه موټرو کې د کلي پر خام سرک روان وو.
دې کسانو د خپلو مړیو جسدونه د کندز ولایت تر مرکز پورې رسول څو د پیښې په وړاندې اعتراض وکړي.
کلیوالو ادعا کوله حکومت په پلوي د ملیشو یوه قوماندان د طالبانو له خوا د خپل یوه ملګري ملیشه د وژل کیدو د غچ اخیستلو لپاره په دې کلي کې خلک ووژل.
په کندز کې د کانام د کلي خلکو د خپلو یولسو ځوانانو جسدونه د ثبوت په ډول د کندز ښار مرکز ته ورسول.
د نیویارک ټایمز ورځپاڼه لیکي، چې دا په تیره یوه میاشت کې دوهم وار دی چې د اربکیو په نوم د ملیشو دا جنجال پارونکې ډله د طالبانو څخه د غچ اخیستلو لپاره داسې کسان وژني، چې ګومان کوي د طالبانو سره خوا خوږي لري.
د کانام د کلي یوه اوسیدونکې نیویارک ټایمز ته ویلي: اوس چې بهرنیان په افغانستان کې شته زموږ دا حال دی کله چې بهرنیان ووزي نو زموږ سره به څه کیږي؟
افغانانو ته په ټیټه کتل کیږي او خپله افغانان په دې پوهېږي، دا د ټایمز د تازه مقالې سرلیک دی، چې د افغانستان په اړه خپره شوې ده.
د مقالې لیکوال په افغانستان کې د کورنیو امنیتي ځواکونو لخوا پر ایتلافي ځواکونو د حملو د زیاتیدو مسله څیړلې ده.
لیکوال یو وار بیا پردې ټینګار کړی، چې د روان کال د پیل راهیسې لږ تر لږه ۴۵ بهرني عسکر په داسې حملو کې وژل شوي. د ټایمز د دې مقالې لیکوال وایي: د ګډو ځواکونو په لیکو کې دننه په دې حملو کې د طالبانو ایډیالوژي دومره رول نه لري لکه د عسکرو خپل غرور او د اعتبار موجودیت.
لیکوال بیا په افغانستان کې د یوه پخواني پوځي لیکنه راخیستي چې وایي: یو رینښتینی عسکر د دې لپاره نه جنګیږي چې دمخامخ څیز څخه یې کرکه ده بلکه د دې لپاره جنګیږي چې شاته پاتې شویو څیزونو سره مینه لري.
لیکوال وایي: دا ښکلې وینا ده، خو د هغه عسکر په اړه څه فکر کوي چې د مخامخ ولاړ سړي څخه کرکه لري او د ځان څنګ ته د موجودو جنګیالو څخه یې نفرت کیږي.
د ټایمز د دې مقالې لیکوال د دې عسکر کیسه کوي او وایي : درې کاله مخکې درې تنه چې زما همسنګران وو او یوځای مو ژوند سره کاوه ، د افغانستان د ملي پولیسو د یوه تن لخوا چې زما دې ملګرو روزنه ورکوله وژل شول.
هغه مهال دې پیښې کنجکاوي او کرکه دواړه پیدا کړه ځکه هغه وخت دا پیښې ډیرې په ندرت لیدل کېدې خو متاسفانه اوس دومره زیاتې شوې دي چې یوازې کرکه رامنځ ته کوي.

هیاتی جهت بررسی قضیه کشته شدن ۱۰ فرد ملکی به کندز فرستاده شد

کابل، رسانه ها:
رییس جمهور کرزی هیات را به ولایت کندز فرستاده تا در مورد قضیه کشته شدن بیش ۱۰ فرد ملکی بررسی نماید.
این هیات به ریاست نماینده لوی څارنوالی ، وزارت های دفاع، داخله، ریاست عمومی امنیت ملی و اداره مستقل ارگان های محل جهت بررسی قضیه کشته بیش ۱۰ تن در ولایت کندز به این ولایت فرستاده شده اند.
رفیع فردوس سخنگوی اداره امور و دارالنشای شورای وزیران به روز سه شنبه در صحبت با رادیو آزادی گفت، این هیات بررسی ها را در ولایت کندز آغاز کرده اند.
به گفته آقای فردوس، هییت که به ولایت کندز سفر کرده اند، به روز چهار شنبه راپور کاری شان را در اختیار رییس جمهور قرار خواهند داد.
بتاریخ یازده سنبله سال روان یک فرد مسلح غیر مسوول در قریه کنم ولایت کندز ۱۳ فرد ملکی را با ضرب گلوله کشت و ۵ تن دیگر را زخمی ساخت.
مردم محل می گویند که فرد حمله کننده یکی از قوماندان اربکی طرفدار حکومت می باشد.
در همین حال شماری از سناتوران در جلسه عمومی مشرانو جرگه روز سه شنبه از کارکرد های پولیس محلی انتقاد کردند.
شماری از اعضای این جرگه می گویند که، پولیس محلی در بعضی ولایات دست آورد های خوبی داشته اما در برخی مناطق باعث آزار و اذیت مردم می گردند.
مولوی عبدالوهاب عرفان یک تن از این سناتوران گفت، که عامل رویداد کندز باید هر چه زودتر باز داشت و مجازات گردد.
در همین حال مقام های وزارت داخله کشور می گویند که این فرد مهاجم مربوط پولیس محلی نمی باشد.

فهرست نامزدان وزرای دفاع ...

اما نا وقت روز یکشنبه آقای کرزی بسم الله محمدی را دوباره به عنوان نامزد وزارت دفاع، مجتبی پتنگ را به حیث نامزد وزارت های داخله، حاجی دین محمد را به صفت نامزد وزارت سرحدات، اقوام و قبایل و اسدالله خالد را به عنوان نامزد ریاست امنیت ملی معرفی کرد.
در این میان رییس جمهور افغانستان آقای خالد را به عنوان سرپرست ریاست امنیت ملی نیز توظیف کرد.
اما این تصمیم آقای کرزی با انتقاد برخی از اعضای ولسی جرگه مواجه شده است.
عبدالرحیم ایوبی یکی از این وکیلان:
"تشویش که ما داریم عدم احترام متقابل رییس جمهور افغانستان است که نه احترام به قانون اساسی و نه به ولسی جرگه دارد .
رییس جمهور به ولسی جرگه این پیام را نیز داده است که اگر به این افراد رای اعتماد ندهد ، آنان را سرپرست مقرر خواهد کرد .
تشویش عمده اعضای ولسی جرگه این است که در صورت ریختن رای منفی با دشمنی کاندید وزیران رو به رو خواهند گردید . "
نامزدان جدید کابینهء افغانستان برای به دست آوردن این کرسی ها باید حد اقل بیش از نصف آرای نماینده های مردم در ولسی جرگه را به دست بی آورند.
در این حال معرفی جنرال بسم الله محمدی و اسدالله خالد برای کسب وزارت دفاع و ریاست امنیت ملی انتقاد های را نیز به همراه داشته است.
شماری از اعضای ولسی جرگه گفته اند، در صورتی که آقای محمدی در وزارت داخله موفق نبود، نباید دو باره به این مجلس معرفی می شدند.
از سوی دیگر سازمان دیده بان حقوق بشر گفته است، زمانی که اسدالله خالد والی قندهار بود، زندان شخصی داشت و در آن زندانیان را شکنجه شده اند.

په ننګرهار کې د برېښنا او ...

نصب کړي، دوی د ښار برېښنا له ولایت څخه په اجاره اخستې، هر کیلو واټ برېښنا په ۳۵ افغانۍ پلوري. دوی ډېر مهال دولتي برېښنا کنټرولوي او د خپلې جنراتوري برېښنا په نامه یې په ښاریانو پلوري. "
په داسې حال کې چې د برېښنا وزارت اعلان کړی و، چې د روان کال د اسد میاشتې تر اخره به جلال اباد او لغمان ته د نغلو د برېښنا کوټ ۲۴ میګاواټه برېښنا کچه ۶۴ میګاواټو ته لوړه کړي، خو د ننګرهار د برېښنا ریاست چارواکو ویلي، د برېښنا وزیر دروغ وایي او دا چاره ناشونې او هم له پلانه بهر ده. د برېښنا رییس مجیب الرحمن مومند وایي، د غوچو سبسټېشن د ۱۲ مېګاواټه ظرفیت لري او تردې زیاته اندازه برېښنا نشي تنظیمولای.
په ګرم موسم لرونکي ننګرهار کې چې د برېښنا ستر بندونه ورخېرمه دي، د برېښنا له غېرعادلانه وېش او کاواکه سیستم څخه ټول ښاریان په شکایت دي. کورونو ته برېښنا نه رسېږي، د ډیزلي برېښنا قیمت خورا جګ دی او د دولتي برېښنا د پروژو د پراختیا په مخ کې یو سیمه ییز مافیا خنډ ده.
په ننګرهار کې د سیکور شرکت معاون رحمت الله همت محور ته ویلي، د برېښنا حاکمیت ددو محلي سوداګرو په لاس کې دی او د ولایتي ادارې په مرسته یې له دولتي خدماتو شخصي کمپنۍ جوړه کړې ده. ښاغلی همت وایي: "دوه سیمه ییز سوداګر دي، یو ګل مراد او بل حاجي فاروق نومېږي، دوی د والي ملګري کاروباریان دي، دوی ۲۵ ډیزلي جنراتورونه نصب کړي، کله چې دولتي برېښنا هم وي، دوی یې د ډیزلي برېښنا په نامه له ښاریانو سره معامله کوي."
په ننګرهار کې یو سیمه ییز خبریال وایي، دلته د والي د شریکانو په مقابل کې څه ویل سخت دي. دی چې له نوم اخستو ډډه کوي محور ته یې وویل: "له خلکو سره شواهد شته چې د سروبي په اوزبین کې د شپږو برېښنا ستنو د جوړېدو په مقابل کې وسله وال په شعوري ډول د همدغې سیمه ییزې برېښنایي مافیا له خوا درول شوي، دوی طالبان نه دي، حزبیان هم نه دي، دوی ته ویل کېږي، ځکه که د دولتي برېښنا داسیستم جوړ شي، نو د جنراتورونو برېښنا به هېڅوک په ۳۵ افغانۍ وانخلي. "
دغه سیمه ییز خبریال وایي، خلکو په څو واره ولایتي ادارې ته شکایت وکړ، خو له دې کبله چې دده په خبره د والي د شراکت شک موجود دی، والي هم په دې برخه کې هېڅ غبرګون نه ښیي.
" د ننګرهار د زیتونو لومړی فارم چې د برېښنا د نشتوالي له کبله یې اوبو ده دوام دار یې برېښنا ساتل کېږي، ونې یې وچې شوې او اوس ګل اغا شیرزی غواړي هلته د سیاسنګ په نامه ښارګوټی جوړ کړي. "
د ننګرهار اوسنی برېښنا کوټ نهه مېګاواټه برېښنا لري، چې له دولتي ودانیو پرته هېڅ ته نه ده توزیع شوې، خو په همدې حال کې د ننګرهار د زیتونو لومړنی فارم د برېښنا د نشتوالي له کبله بې اوبو شوی، ونې یې وچې شوې او د له منځه تللو په حال کې دی. ځایي خبریال محور ته ویلي، هغه نقشې یې لیدلې چې ننګرهار والي غواړي، په زیتونو لومړي فارم کې د سیاسنګ په نامه شخصي ښارګوټی جوړ کړي. دا په داسې حال کې ده، چې د غازي امان الله خان په ښارګوټي کې هم د رپوټونو په وینا د مالیې د وزیر حضرت عمر زاخېلوال، نجیب زراب او د ننګرهار والي ګل اغا شیرزی شریکان دي او خلک دې شراکت ته د)بلډینګونو یاری(اصطلاح کاروي.
په ننګرهار کې همدا اوس دوه صنعتي پارکونه شیخ مصري او حصارشاهي برېښنا نلري، همدا راز په جلال اباد ښار کې د برېښنا د نه موجودیت له کبله ګڼې تولیدي کارخونې زیانمنې شوې دي، د کارخونو خاوندان وایي، که د برېښنا ستونزه حل شي، ۵۰۰ تولیدي فابریکې به د ټول افغانستان د اړتیا مطابق تولیدات رامنځ ته کړي او د پاکستان د صادراتو مارکېټ به ختم کړي، خو دوی شک کوي، چې په تولیداتو، سوداګرۍ او د برېښنا په برخه کې چې څنځیري رابطه لري د ننګرهار چارواکي او سیمه ییزه مافیا غځېدلې ده.

عزیزالله لودین اتهامات ولسي ...

متهم به فساد اداری نموده گفت، این دو نفر را به لوی څارنوالی معرفی کرده است.
لودین این اتهامات را جداً رد کرد که که گویا می خواست ازین قرارداد پول بگیرد او گفت، هنگامی که در مورد فساد موجود در این قرار داد شک بر شدند، بر اساس قانون این را لازم دانستند که این قرارداد برای بار دیگر، به داوطلبی قرار گیرد.
آقای لودین همچنان گفت، اعضای ولسی جرگه باید بر عملکردهای حکومت نظارت کنند نه اینکه خود در داوطلبی قرارداد ها شرکت نموده یا ریاست داوطلبی ها را به عهده گیرند.
جنرال ظاهر عظیمی سخنگوی وزارت دفاع افغانستان، اتهامات وارده کمسیون دفاعی ولسی جرگه بر سرپرست وزارت دفاع عنایت الله نظری را رد کرد.
رییس اداره مبارزه با فساد در افغانستان در این اواخر، به شخصیت خبرساز رسانه ها بعد از آن مبدل شد که چندین مقام دولتی را، به فساد و اختلاس متهم کرد.

د ناټو پر پوځیانو حملې به...

وباسي، په دې ډول حملو له ستونزو سره نه مخامخ کېږي.
راسموسن رویټرز خبري اژانس ته وویل: "د افغان ځواکونو له منځه حملې د زیاتې اندېښنې وړ دي. دا بریدونه د بهرنیو پوځیانو او افغان امنیتي ځواکونو ترمنځ اعتماد او باور زیانمنوي... په سیمه کې زموږ موجودو قومندانانو اقدامات کړي او نور ګامونه به هم واخلي چې د دا ډول حملو مخه ونیسي. "
سږ کال د افغان ځواکونو له لوري د ناټو لږ ترلږه ۴۵ پوځیان وژل شوي چې لوی اکثریت یې د امریکایي پوځیانو دی. ویل شوي چې اکثره بهرني پوځیان د طالبانو د نفوذي عناصرو له لوري نه دي وژل شوي بلکې د هغو افغان ځواکونو له خوا وژل شوي چې د امریکایانو تکبر پرې بد لګېدلی دی. تېر کال ټولټال ۳۵ بهرني پوځیان د افغان ځواکونو له لوري وژل شوي ول.
راسموسن وویل: "د افغان ځواکونو حملې به د ځواک لېږد په باب زموږ پلان ګډوډ نه کړي او د ځواکونو د ایستلو په مهالوېش کې به تغییر را نه ولي. "
د ناټو عمومي منشي همداراز وویل چې دی په دې باب اندېښمن نه دی چې د افغان ځواکونو له خوا د ناټو پر پوځیانو حملې به د دې سبب شي چې د ناټو غړي هیوادونه له افغانستانه د خپلو پوځیانو د ایستلو پروګرام رامخکې کړي.
خو د فرانسې ولسمشر فرانسیس اولاند له افغانستانه د شاوخوا ۳۴۰۰ فرانسوي پوځیانو د ایستلو پروګرام چټک کړی او نیوزیلنډ هم ویلي دي چې ښایي له افغانستانه خپل پوځیان تر ټاکلي وخت مخکې وباسي.

شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان
خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
د اړیکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳
• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه مسترد یږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی
دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مینه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com